ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۱۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو دولسمه برخه)

### عبدالرشید واثق

په ۱۹۸۰ز کال د اپریل په میاشت کې د ولسمشر د دفتر رئیس. د ۱۹۸۰ز کال د نوامبر د میاشتې په ۱۸ نېټې لوی څارنوال.

### ډاکټر غني واثق

د غوایي له پاخون وروسته د KOYA رئیس. د پوهنتون د څانګې ګوندي منشي.

### محمد هاشم واسوخت

په ۱۹۲۵ز کال کې د فیض آباد په "چته" [1] کې زېږېدلی دئ. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. له بدخشان څخه د مشرانو جرګې سناتور. زده کړې ئې په فیض آباد او د کابل په دارالمعلمینو کې کړې دي. مورنۍ ژبه ئې تاجیکي ده. ویل کېږي چې په ۱۹۷۹ز کال کې ووژل سو.

### برید جنرال غلام نبي وستلی [2]

د "ولید میر احمد" [3] زوی د کونړ ولایت په "درهٔ مزار" [4] کې په ۱۹۳۵ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۱ز کال کې د "درهٔ مزار" له لومړني ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۵۲ز کال پورې حربي ښوونځي ته تللی دئ او له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د حربي پوهنتون د پلي ځواک پوهنځي ته تللی دئ. په ۱۹۵۵ز کال کې د دوهم بریدمن په رتبې فارغ سو. تخصص ئې په "الپاین" [5] "غرنیو جنګونو" کې دئ. د تورن رتبې ته ئې ارتقاء وکړه او په ۱۹۶۲ز کال کې د حربي پوهنتون د تاکتیک ښوونکی سو. په ۱۹۶۶ز کال کې جګتورن سو. د جګړن رتبې ته ئې ارتقاء وکړه او په ۱۹۶۸ز کال کې د قرارګاه د مسؤول په توګه وګومارل سو. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې د ډګرمن رتبې ته ارتقاء وکړه او د قوای مرکز د "متعمد استحکام" د مسؤول په توګه وګومارل سو. په ۱۹۷۳ز کال د خلق د فرکسیون غړی سو. په

[1] -Chata Faizabad
[2] -WASTALI, BRIG.GEN GHULAM NABI
[3] -Walid Mir Ahmad
[4] -Darreh-ye-Mazar
[5] -Alpine


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۹۷۵ز کال کې د پکتيا د ځواکونو بولندوی سو. په ۱۹۷۶ز کال کې د دفاع په وزارت کې ورته دنده وسپارل سوه. په ۱۹۷۸ز کال کې ئـي د ډګروال رتبې ته ارتقاء وکړه او د ننګرهار ولايت د وسلوالو ځواکونو د بولندوی او ددې ولايت د والي په توګه مقرر سو. په ۱۹۷۸ز کال کې د هرات والي او د هرات د وسله والو ځواکونو بولندوی. د ۱۹۷۸ز کال د نوامبر په مياشت کې د افغانستان د وسله وال ځواک د لوی درستيز په توګه مقرر سو. د ۱۹۷۹ز کال د جنوری په مياشت کې په وارسا کې افغان سفير. وادۀ ئـې کړی او دوه لوڼې او دوه زامن لري. د ۱۹۷۹ز کال د فبروری په مياشت کې په وارسا کې مړ سو. مورنۍ ژبه ئـې پښـتو وه.

## محمد اسلم وطنجار

د پکتيا ولايت د زرمتو د اندړ د قبيلې په يوې کورنۍ کې په ۱۹۴۶ز کال کې زېږېدلی دئ. په خپل کلي کې د لومړني ښوونځي له بشپړلولو وروسته په حربي ښوونځي کې شامل او په ۱۹۶۸ز کال کې فارغ سو. په ۱۹۷۱ز کال کې لومړی بريدمن. ويل کـېږي چې د افغان ملت يو له ملاتړو څخه وو خو په پټه خلقی سوی وو. په ۱۹۷۳ز کال کې جګتورن. په ۱۹۷۵ز کال کې جګړن او د څلورمې زغره والې فرقې د يوۀ کنډک بولندوی. د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د مياشتې په ۲۶ نـېټې ئـې له پلچرخي څخه د شوبلو/ټانکونو د يوۀ قطار مشري وکړه او ارګ ئـې محاصره کړ. د ۱۹۷۸ز کال له اپريل څخه تر جون پورې د مخابراتو وزير. د ۱۹۷۸ز کال د آګست په مياشت کې د کورنيو چارو وزير. په ۱۹۷۹ز کال کې ستردرستيز. د ۱۹۷۹ز کال د اپريل په مياشت کې ددفاع وزير. په ۱۹۷۹ز کال کې ئـې د ډګرمنې رتبې ته ارتقاء وکړه. د ۱۹۷۹ز کال د جولای په مياشت کې د کورنيو چارو وزير. حفيظ الله امين له کاره برطرفه کړ اووطنجار مخفي سو. د ۱۹۸۰ز کال د جنوری په مياشت کې د مخابراتو وزير. د سياسي بيرو غړی؛ د مرکزي کمـېټې منشي؛ او د انقلابي شوری د رئـيسه هيـئـت غړی. مورنۍ ژبه ئـې پښتو وه.

## ډاکټر خالق وطنيار

په ۱۹۵۵ز کال کې ئـې خپل ليسانس د کانونو په برخې کې له انجنيرينګ کالج څخه اخيستی دئ؛ په ۱۹۵۷ز کال کې خپل ليسانس په جيولوجي کې د کابل له پوهنتون څخه اخيستی دئ او خپله دکتورا ئـې په جيولوجي کې په ۱۹۶۵ز کال کې د شوروي اتحاد له باکو څخه اخيستې ده. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د هرات د کانونو انجنيرنګ کې. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د افغان تيلو او د ګاز د کمپنۍ عمومي مدير. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د پلخمري د سمنټو د فابريکې مرستيال رئـيس. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د هرات د نساجي کمپنۍ رئـيس. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د نفت او ګازو د تفحصاتو مشر. له يوې روسی مـېرمنې سره ئـې وادۀ کړی دئ او دوه بچيان لري.

## عبدالرشيد وزيري

له ۱۹۸۰ تر اوسه (۱۹۸۶ز – ژ) پورې د قبائـيلو د چارو مرستيال وزير.

## بريدمن مـحـمـد اقبال وزيري

د نور مـحـمـد تره کي قاتل. دی په ۱۹۸۰ز کال کې اعدام سو.

## جنرال نصرالله وزيري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د پکتیا د وزیرو له قبیلې څخه دئ او یو متقاعد جنرال دئ. د ۱۹۸۶ز کال په جنوری کې د انقلابي شوری غړی.

## محمد شفیق وجدان

په ۱۹۲۱ز کال کې زېږېدلی دئ. خپله ماستري ئې په راډیویي ژورنالیزم کې له قاهرې څخه تر لاسه کړې ده. د پیام حق محرر. د انیس مرستیال محرر. د راډیو افغانستان د ښووني او روزنې د پروګرامونو ډایرکټر. د افغان انسایکلوپیدیا د ریاست رئیس. مورنی ژبه ئې پښتو ده.

## محمد حسن ولسمل

د قاسم خان زوی په ۱۹۴۰ز کال کې د ننګرهار د کامې په ګهیک [6] کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۶ز کال کې د ابن سینا له لیسې او په ۱۹۵۹ز کال کې د کابل د کرنې/ زراعت له لیسې څخه فارغ سوی دئ او په ۱۹۶۲ز کال کې ئې خپل لیسانس د کابل له پوهنتون څخه په ژورنالیزم کې تر لاسه کړ. په ۱۹۶۲ز کال کې د راډیو افغانستان د پروګرامونو اډیټر. په ۱۹۶۴ز کال کې په کامدیش او د پیچ په درې کې د کلیو د پراختیا عمومي مدیر. په ۱۹۶۵ز کال کې د کورنیو چارو د وزارت د قاچاق د مخنیوی عمومي مدیر. په ۱۹۶۶ز کال کې د بغلان د خوست وفرنګ د ولسوالی ولسوال. په ۱۹۶۶ز کال کې د تخار د خواجه غار د ولسوالۍ ولسوال؛ په ۱۹۶۷ز کال کې د جوزجان د منجې ګک ولسوال؛ په ۱۹۶۷ز کال کې د هرات د زنده جان د ولسوالی ولسوال. په ۱۹۶۸ز کال کې ئې له حکومتي چارو څخه استعفی وکړه. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د افغان اونیزې څښتن او محرر ,دا اونیزه د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له لورې ممنوع سوه. په ۱۹۷۲ز کال کې د بلخ ولسوال. په ۱۹۷۲ز کال کې د ننګرهار له کامې څخه ئې ځان د ولسي جرګې غړیتوب ته کاندید کړ. په ۱۹۷۲ز کال کې یو ځل د بلخ ولسوال مقرر سو. په ۱۹۷۳ز کال کې د کوهدامن ولسوال سو او په ۱۹۷۷ز کال کې د انسجام عمومي مدیر. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د دهمزنګ او پلچرخي په زندانونو کې سیاسي زنداني. په ۱۹۸۰ز کال کې پاکستان ته وتښتېد. په ۱۹۸۱ز کال کې د افغان مجاهد د خپرونې څښتن – محرر. ,دا خپرونه په ۱۹۸۴ز کال کې د پاکستان له لوري منع سوه. په ۱۹۸۵ز کال کې د افغان ولس څښتن – محرر. په پاکستان کې د دریو میاشتو لپاره زنداني سو. ددۀ ورور محمد ایاز او اوښی ئې عزیزالرحمن الفت په ۱۹۸۳ز کال کې په پېښور کې ووژل سول. په پښتو ژبې د څو خپرونو مؤلف.

## عبدالله یفتلي

د میرزا محمد یفتلي زوی په ۱۹۱۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ ,د میرزا محمد یفتلي خور د امیر حبیب الله خان په مېرمنو کې یوه مېرمن وه, د اماني له لیسې څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۳۵ تر ۱۹۴۳ز کال پورې ئې په جاپان کې اقتصاد ولوست. د افغانستان بانک د کریدیت مدیر. په ۱۹۴۷ز کال کې د ساختماني بانک رئیس. د مالیې د وزارت د عایداتي مالیاتو د ریاست رئیس. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۹ز کال پورې د دولتي انحصاراتو د ریاست رئیس او د کابل په پوهنتون کې مدرس. په ۱۹۵۹ز کال کې د پلان د وزارت د احصائیې او څېړنې د ریاست رئیس. په ۱۹۶۳ز کال کې د پلان د وزارت مرستیال وزیر او سرپرست وزیر. د وزیرانو د شوری منشي. د ۱۹۶۵ز کال د مارچ له میاشتې وروسته د پلان وزیر. د ۱۹۶۵ د نوامبر له میاشتې وروسته د مالیې وزیر. په ۱۹۶۷ز کال کې د پلان وزیر.

[6] -Gahik, Kama, Nangarhar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۶۷ز کال کې د مشخص وزارت له لرلو پرته د کابینې وزیر. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال کې دوهم مرستیال صدراعظم. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې لومړی مرستیال صدراعظم. د داؤود د جمهوریت پرمهال ئې کار نـهٔ درلود. په نړۍ والو کنفرانسونو کې او له نورو دولتونو څخه د لیدنو پر مهال به ئـې د افغانستان استازیتوب کاوهٔ. وادهٔ ئـې کړی او درې زامن او درې لونې لري. په انگلیسي، فرانسوي او جاپاني ژبو خبرې کوي. اوس د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## ډاکتره سیما غوثي یفتلي

د محـمـد عمر غوثي لور په ۱۹۵۴ز کال کې په کابل کې زېږېـدلې ده. د رابعـهٔ بلخي له لیسي څخه فارغه سوې او وروسته د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې شامله سوې ده. ;د عبدالله له زوی; صلاح یفتلي سره ئـې وادهٔ وکړ او ورسره د امریکا متحده ایالاتو ته لاړه. د کارابیین په امریکایي پوهنتون کې ئـې خپل د طبابت M.D. سند تر لاسه کړ. اوس د کالیفورنیا په ;توزند اوکس;[7] کې د طب ډاکتره ده.

## محـمـد رفیق یحیی یي

;د م. س. رهگذر ورارهٔ; په ۱۹۴۸ز کال کې په کابل کې زېږېـدلی دئ. خپلې زده کړې ئـې په شوروي اتحاد کې کړې دي. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د افغان فلم غړی چې وروسته د افغان فلم مدیر سو. په ایران کې ئـې د ایران د راډیو ټلویزیون لپاره کار کړی دئ. په ۱۹۷۹ز کال کې شوروي اتحاد ته لاړ ، بـېـرته کابل ته راستون او په ۱۹۸۴ز کال کې مړ سو. دا هغه لیکوال دی چې لیکنې ئـې په ایران کې چاپ سوې دي. له نفیسي نوري سره ئـې وادهٔ کړی دئ.

**شاه عبدالله بدخشي یمگي** : وگورئ : شاه عبدالله

## فقیر محـمـد یعقوبي

زده کړې ئـې په شوروي اتحاد کې کړې دي. په ۱۹۷۵ز کال کې د کابل پوهنتون د پلتخنیک د انستیتیوت رئـیس. په ۱۹۸۰ز کال کې د معارف د وزارت لومړی مرستیال وزیر. د ۱۹۸۱ز کال د جون په میاشت کې د معارف وزیر. د افغان – منگولیا د دوستۍ د ټولنې رئـیس. د مشخص وزارت له لرلو پرته د کابینې وزیر. د یونسکو د ملي کمیسیون رئـیس.

**نور بیا**

## غلام فاروق یعقوبي

له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۵ز کال پورې د دولتي اطلاعاتو د خدماتو/ خدمات اطلاعات دولتي ;خاد; مرستیال رئـیس...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک

[7] -Thousand Oaks, California


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ